

# څه ډول له HUD سره د عادلانه استوګنځي شکایت ثبت کړو

NORTHWEST
FAIR HOUSING
ALLIANCE

***"د ټولو لپاره د برابر استوګنځي له چمتو کولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره کار کول"***


**(509)-325-2665**
**1-800-200-FAIR (3247)**
**www.nwfairhouse.org**


## د NWFHA معلومات د HUD شکایت ثبتولو ته اړتیا لري

1. ستاسو نوم او پته
2. د هغه شخص(اشخاصو) یا اداري نوم او پته چې تاسو یې پر وړاندې شکایت ثبتوئ
3. د اړوند استوګنځي پته
4. د هغو حقایقو نچوړ چې د توپیري چلند شرایط تشریح کوي
5. د ادعا شوې سرغړونې(و) نېټه(ې).

## HUD ته د شکایت له استولو وروسته څه شی پېښیږي؟

- د HUD د معلوماتو د ترلاسه کولو متخصص شکایت ارزوي تر څو مشخص کړي چې آیا HUD د ارزونې صلاحیت لري او که نه.
- کیدای شي د معلوماتو د ترلاسه کولو متخصص د لا زیاتو معلوماتو
  غوښتنه وکړي یا سمونه ترسره کړي او له تاسو څخه وغواړي چې شکایت بیا لاسیک کړئ.
- که چېرې HUD شکایت ومني، د HUD یو پلټونکی به وټاکل شي یا ستاسو شکایت به د پلټنې د ترسره کولو لپاره WSHRC ته راجع شي.

## پلټنه:

د HUD/WSHRC پلټونکی به معمولاً لاندې کارونه ترسره کړي:

- ستاسو سره به یوه مرکه په مهالویش برابره کړي تر څو ستاسو د شکایت په اړه لا زیات معلومات ترلاسه کړي
- له ځواب ور کوونکي (مدعي علیه) سره مرکه کول
- له تاسو څخه به وغواړي چې په دویمه
  مرکه کې ګډون وکړئ تر څو
  د ځواب ور کوونکي لخوا وړاندې شویو معلوماتو ته ځواب ورکړئ
- له تاسو څخه به د ادعا شوي توپیري چلند په اړه د اسنادو (لکه، اجاره لیکونه، خبرتیاوې، د ملکیت سوابق، د ټلیفون شمېره، برښنالیک او لیکلي سوابق او داسې نور)، د شاهد معلوماتو او نورو اړوند
  شواهدو غوښتنه وشي
- له تاسو څخه به وغواړي چې د خپلو زیانونو په اړه شواهد وړاندې کړئ، چې کیدای شي په پولي ډول (لکه، د ځای پر ځای کولو یا زیاتې شوې کرایې لګښتونه)، فزیکي زیانونه یا عاطفي ناراحتي وي.

پلټنه به وخت ونیسي. په مهربانۍ سره صبر ولرئ او له NWFHA سره په اړیکه کې اوسئ تر څو موږ وکولای شو تاسو ته اپډیټ معلومات درکړو.

## روغه جوړه

د پلټنې پر مهال، کیدای شي HUD هڅه وکړي چې شکایت د یوې لیکلې هوکړې په واسطه حل او فصل کړي، چې په هغې ستاسو او د ځواب ورکوونکي شرایط شامل وي. دې ته د روغې جوړې یا له بودیجې وړاندې د مالي تصفیې هوکړه لیک ویل کیږي. HUD پریکړه نه کوي چې آیا توپیري چلند ترسره شوي دی او که نه او ځواب ور کوونکی هیڅ ډول ناغیړي یا ګناه نه مني. شکایت کوونکی به هر هغه څه ترلاسه کړي چې هوکړه پرې شوې وي. په دې ډول مرستو کې کیدای شي د پیسو په واسطه د زیان جبران او همداراز هغه هوکړه لیکونه شامل وي چې د ځواب ور کوونکي لخوا د هغو کارونو د ترسره کولو لپاره ترسره شوي وي چې په راتلونکي کې د توپیري چلند په مخنیوي کې مرسته کوي، لکه، د عادلانه استوګنځي د شکایت چک کول او د منطقي استوګنځي سره سم په معقول ډول د ځای پر ځای کولو پالیسۍ او د عادلانه استوګنځي روزنه ترلاسه کول.

## څه ډول یو شکایت پایته رسیږي؟

که چېرې یو شکایت د روغې جوړې د هوکړې پر بنسټ حل نشي، HUD به پریکړه وکړي چې آیا شکایت کوونکي توپیري چلند ثابت کړی دی او که نه. له دې پرته شکایت به "د معقول دلیل پرته" د بې پایلې په توګه رد شي. که چېرې HUD تشخیص کړي چې توپیري چلند ترسره شوی دی، نو د "معقولو دلایلو پر بنسټ" به یوه پایله اعلان کړي او شکایت به د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت ته راجع کړي. کیدای شي د اداري حقونو د قاضي پر وړاندې یوه اداري استماعیه ناسته ترسره شي یا له اړخونو څخه هر یو کولای شي د هغه پر ځای په فدرالي محکمه کې یو شکایت ثبت کړي. د عدلیې وزارت (DOJ) د شکایت کوونکي استازیتوب نه کوي، مګر کیدای شي د شکایت کوونکي لپاره پیسې یا نورې مرستندویه لارې چارې وړاندې کړي. همداراز تاسو کولای شئ خپل وکیل ولرئ تر څو له تاسو څخه ستاسو د قضایي دعوا پر مخ بیولو کې استازیتوب وکړي.


هغه کار چې د دې خپرونې د بنسټ ایښودلو لپاره یې زمینه برابره کړه تر یوې کچې پورې د متحده ایالاتو د استوګنځي او ښاري پراختیا وزارت د بلاعوضه مالي مرستو لخوا یې ملاتړ ترسره کیده.
NWFHA په دې خپرونه کې یوازې د بیانیو او شاملو تشریحاتو مسوولیت په غاړه لري.
د 2021 جولای میاشت /Pashto

## له تاسو څخه ساتنه ترسره کیږي

د فدرال د عادلانه استوګنځي قانون د *نژاد، رنګ، ملي اصل، مذهب، جنسیت،* د *کورنۍ د حالت* (په کورنۍ کې له 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان) او *معلولیت پر بنسټ* د استوګنځي په برخه کې توپیري چلند ترسره کول منع کوي

سربیره پر دې، د توپیري چلند پر وړاندې د واشنګټن آیالت قانون (WLAD, RCW 49.60) د *نظامي یا متقاعد سرتیري والي حالت، عقیدې، مدني حالت، جنسي تمایل او د کډوالۍ یا تابعیت د حالت* پر بنسټ د استوګنځي اړوند توپیري چلند ترسره کول منع کوي

**د متحده ایالاتو د استوګنځي او ښاري پراختیا وزارت (HUD)** یوه فدرالي اداره ده چې د **عادلانه استوګنځي قانون** پلي کوي

**د واشنګټن آیالت (WA) د بشري حقونو کمیسون** WLAD پلي کوي.

**د Northwest Fair Housing Alliance** کیدای شي وکولای شي له تاسو سره له HUD یا WSHRC سره د عادلانه استوګنځي د شکایت په ثبتولو کې مرسته وکړي

زموږ سره همدا نن اړیکه ونیسئ:

35 W. Main Ave., Suite 250
Spokane, WA 99201
تیلیفون: (509)-325-2665 یا
1-800-FAIR (3247)
فکس: 866-376-6308-
www.nwfairhouse.org

**موږ کولای شو تاسو ته د ژباړونکي په اړه سپارښتنه وکړو. زموږ خدمتونه وړیا دي.**

## د Northwest Fair Housing Alliance څه ډول کولای شي مرسته وکړي؟

کیدای شي موږ د لاندې لارو په واسطه له تاسو سره مرسته وکړو:

- د دې مشخص کول چې آیا HUD یا WSHRC د هغه څه اړوند د شکایت د منلو او ارزولو صلاحیت لري چې تاسو ورسره مخ شوي یاست
- په ټولو هغو اسنادو او شواهدو باندې بیاکتنه ترسره کول او تنظیمول چې تاسو یې لرئ
- له HUD سره د ثبت په موخې د شکایت مسوده یا خاکه جوړول
- HUD ته د شکایت استول
- د HUD د پلټنې د پروسې په لړ کې ستاسو د استازي په توګه عمل کوي
- له تاسو سره د زیان اړوند د غوښتنې په چمتو کولو او د روغې جوړې د هوکړې لیک

مهمه یادونه

***د Northwest Fair Housing Alliance قانوني استازیتوب، سپارښتنه یا خدمتونه نه وړاندې کوي.***

په HUD کې ثبت شوي شکایتونه په اداري توګه د فدرالي اداري لخوا ارزول کیږي، هغوی په محکمه کې نه ثبت کیږي (په داسې حال کې، که چیرې له پلټنې وروسته HUD مشخص کړي چې توپیري چلند ترسره شوی دی، کیدای شي شکایت د متحده ایالاتو عدلیې وزارت ته راجع کړي او له اړخونو څخه هر یو کولای شي پریکړه وکړي چې خپل دعوی په فدرال محکمه کې ثبت کړي).

تاسو اړتیا نه لرئ چې له HUD سره د یوه شکایت ثبتولو لپاره د NWFHA خدمتونه وکاروئ. کیدای شي له HUD سره په مستقیم ډول اړیکه ونیسئ:
*تیلیفون: 1 (800) 669-9777* یا
ویب پاڼه:
https://www.hud.gov/program_offices/fair_housing_equal_opp/online-complaint
تاسو اړتیا نه لرئ چې له HUD سره یو شکایت ثبت کړئ. د هغې پر ځای تاسو کولای شئ په محکمه کې دعوی ثبت کړئ. کیدای شي تاسو وغواړئ چې له حقوقي سلاکار سره مشوره وکړي تر څو مشخصه کړئ چې آیا له HUD سره د شکایت ثبتول یا د دعوی پرانیستل ستاسو لپاره مناسب غوراوی دی او که نه.

## څوک کولای شي یو شکایت ثبت کړي؟

***هر هغه کس چې زیان یې لیدلی*** وي کولای شي له HUD سره شکایت ثبت کړي. زیانمن هغه کس ته ویل کیږي چې په دې باور وي چې د توپیري چلند له امله یې زیان لیدلی دی یا زیانمن به شي. هغه کس چې شکایت ثبتوي، **"شکایت کوونکی بلل کیږي."**

## تاسو کولای شئ د چا پر وړاندې یو شکایت ثبت کړئ؟

هغه شخص یا اداره چې د هغې پر وړاندې شکایت ثبت کیږي، **"ځواب ور کوونکی یا مدعی علیه"** بلل کیږي. کیدای شي ځواب ور کوونکي د ملکیتونو څښتنان، د ملکیتونو مدیران او د ساتنې او رغونې کار کوونکي، پراختیا ور کوونکي، د معاملاتو د لاربوونې کار کوونکي، د استوګنځي پور ور یا اجاره کوونکي، د کور او آپارتمان د څښتنانو ټولنې، د بیمې اداري او نور اجاره کوونکي او ګاونډیان وي چې کیدای شي ستاسو د عادلانه استوګنځي په حقونو کې مداخله وکړي.

د استوګنځي یو شمیر هغه چمتو کوونکي چې د ډېرو استوګنیزو واحدونو څښتنان نه دي، د عادلانه استوګنځي د قوانینو له رعایت کولو څخه معاف دي. NWFHA کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي تر څو پوه شئ چې آیا ستاسو د استوګنځي چمتو کوونکی معاف دی او که نه.

## څه وخت کولای شو شکایت ثبت کړو؟

- له HUD سره د اداري شکایت د ثبت لپاره د ادعا شوي توپیري چلند د اقدام له وروستۍ نېټې څخه **یو (1) کال وروسته**
- په فدرال یا ایالتي محکمه کې د مدني دعوې د ثبت لپاره د ادعا شوي توپیري چلند د اقدام له وروستۍ نېټې څخه **دوه (2) کاله وروسته**

## آیا د HUD د یوه شکایت ثبتول لګښت لري؟

نه، له HUD *سره د عادلانه* استوګنځي اړوند اداري شکایت د ثبتولو په بدل کې هیڅ ډول لګښت نشته دی.